# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

## د پوهنځیو په کچه فارغانو سره د اړیکې نیونې میکانیزم
( فارغانو شبکه)

کال:۱۴۰۴

# فهرست

سریزه:------------------------------------------------------------------------------------------------------۲
موخې:-------------------------------------------------------------------------------------------------------۲
مسؤل اشخاص او شاملې خواوې:--------------------------------------------------------------------------------۲
د پوهنځیو په کچه د فارغانو لیستونه جوړول:-------------------------------------------------------------------۳
د فارغانو شبکې د غونډې د اجنډا او نېټې ټاکلو څرنګوالی:------------------------------------------------------۳
د فارغانو شبکې د راپور جوړولو او لیکلو څرنګوالی:-------------------------------------------------------------۴
د فارغانو شبکې غونډې وروسته د لاسته راغلو پایلو پر اساس عملي اقدامات:-------------------------------------۴
تائید او تصویب:--------------------------------------------------------------------------------------------------۵

## سريزه

فارغان د پوهنتون د هویت او وقار مهم اســـتازي دي. هغوی د خپلو لاســـته راوړنو او تجربو له لارې نه یوازې د پوهنتون علمي او مســلکي ارزښــت ننداريې ته وړاندې کوي، بلکې د ټولنې په پرمختګ او هوســاینې کې هم رغنده ونډه اخلي. د فارغانو بریاوې په حقیقت کې د پوهنتون د تدریسي کیفیت، علمي معیارونو او د ټولنې سره د ژمنتیا ښکارندويي کوي.

له همدې امله، د فارغانو سره د اړیکو دوامدار ســـاتل او د هغوی د نظریاتو، وړاندیزونو او تجربو څخه ګټه اخیســـتل د پوهنتون د پرمختیایي تګلارو یوه مهمه اړتیا ده. فارغان کولی شي د خپل عملي تجربه، کاري ساحو او مسـلکي مهارتونو له لارې د محصـلینو لپاره د لارښوونې او د پوهنتون لپاره د مشورې یو باوري سرچینه وي.

دغه طرزالعمل د همدې اړتیا پر بنسټ او د تضمین کیفیت د 8.4.6 معیار په اساس جوړ شوی دی، څو د پوهنتون او فارغانو ترمنځ د اړیکې یو اغېزناک چوکاټ رامنځته کړي. د دې میکانیزم له لارې به پوهنتون وکولای شي:

- د فارغانو نظریات او وړاندیزونه په اغېزمن ډول راټول کړي،
- د هغوی د تجربو څخه د درسي پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره ګټه واخلي،
- د محصلینو لپاره د روزنیزو او مسلکي فرصتونو په برابرولو کې له فارغانو سره همکاري وکړي،
- او د فارغانو بریاوې په ملي او نړیواله کچه د پوهنتون د ویاړ یوه برخه وګرځوي.

په دې توګه، دا میکانیزم د پوهنتون د پرمختګ، د محصلینو د ظرفیت لوړونې او د فارغانو د درناوي لپاره یو عملي ګام دی.

## موخې

د فارغانو سره د اړیکې نیونې د طرزالعمل اصلي موخې دا دي:

1. له فارغانو سره د دوامدارې او اغېزمنې اړیکې ساتل.
2. د فارغانو د تجربو، نظریاتو او وړاندیزونو څخه د پوهنتون د پرمختیا لپاره ګټه اخیستل.
3. د فارغانو او محصلینو تر منځ د علمي او مسلکي تجربو شریکول.
4. د محصلینو لپاره د کارموندنې، عملي زده کړو او روزنیزو فرصتونو برابرول.
5. د فارغانو بریاوې ستایل او د هغوی لاسته راوړنې د پوهنتون د ویاړ یوه برخه ګرځول.
6. د پوهنتون او ټولنې تر منځ د اړیکو پیاوړتیا د فارغانو د عملي رول له لارې.
7. د پوهنتون د درسي پروګرامونو او ستراتیژیکو پالیسیو د ښه والي لپاره د فارغانو مشورې کارول.

## ۱: مسؤل اشخاص او شاملې خواوې

- د پوهنځیو رئیسان :د هر پوهنځي په کچه د میکانیزم د عملي کېدو عمومي څارنه کوي او د اړوندو پرېکړو مسوولیت لري.
- ډیپارټمنټونو آمرین :په خپل ډیپارټمنټ اړوند فارغانو شبکې غونډه کې ګډون، او د ډیپآرټمنټ نماینده ګي کول
- تدریسي مدیران :د برنامو د مهالویش او د تطبیقي چارو د اسانتیاوو برابرولو کې رول لري.

- د محصلینو سفیران (له فارغو محصلینو څخه ټاکل شوي) :د پوهنتون او فارغ شویو محصلینو ترمنځ د اړیکو د پُل په توګه عمل کوي، نظرونه راټولوي او اړوند وړاندیزونه وړاندې کوي.
- ټول فارغ شوي محصلین :د میکانیزم په بریالیتوب کې د اصلي شریکانو په توګه ګډون کوي، خپلې تجربې شریکوي او د پرمختګ لپاره نظریات وړاندې کوي.

## ۲: د پوهنځیو په کچه د فارغانو لیستونه جوړول:

په کال کې لږ تر لږه یو ځل، او یا هم د هر سمستر په پای کې، پوهنځي د خپلو فارغانو مشورتي غونډې جوړوي. د دغو غونډو موخه دا ده چې د فارغانو تجربې، ستونزې او وړاندیزونه په مستقیم ډول واورېدل شي او د هغوی پر بنسټ د برحال محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره اغېزمن پروګرامونه طرحه او عملي شي.

تدریسي مدیران د خپلو پوهنځیو د ټولو هغو محصلینو لېستونه په دقیقه او منظمه توګه جوړوي، چې له دوی سره فارغ شوي دي. دغه لېستونه به د فارغانو شهرت سربېره د اړیکو (تلیفون، برېښنالیک او نور) معلومات هم ولري، تر څو د فارغانو شبکې (Alumni Network)غونډو ته په اسانۍ سره دعوت شي او ګډون وکړي.

د فارغانو مشورتي غونډې نه یوازې د پوهنتون او فارغانو ترمنځ د اړیکو د ټینګښت وسیله ګرځي، بلکې د زده کړو د کیفیت د لوړولو، د مسلکي مهارتونو د پیاوړتیا، او د محصلینو د راتلونکې لپاره د لا ښه چمتووالي زمینه هم برابروي.

## ۳: د فارغانو شبکې د غونډې د اجنډا او نېټې ټاکلو څرنګوالی

په کال کې لږ تر لږه یو ځل، یا هم د هر سمستر په پای کې، د فارغانو شبکې غونډه ترسره کېږي. د غونډې د جوړولو پروسه په لاندې ډولترسره کیږي:

1. **د فارغانو شبکې د غونډې ترسره کیدو لپاره د پوهنځي په کچه د تیارۍ مجلس نیول.**

مخکې له دې چې د فارغانو غونډه رسمي ونیول شي، اړونده مسؤلین سره راټولیږي ترڅو د غونډې نېټه، وخت او اجنډا باندې بحث وکړي.

2. **د اجنډا ترتیب:**

د اجنډا په جوړولو کې دا ټاکل کېږي چې کومو موضوعاتو باندې فارغانو سره بحث وشي.

موضوعات معمولا شاملوي:

- ښه راغلاست وینا
- د فارغانو نظریات د راتلونکي لپاره
- د فارغانو تجربې او ستونزې (تحصیلي، اداري، مسلکي).
- د برحاله محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره وړاندیزونه.
- د پوهنتون د خدماتو او اسانتیاوو ارزونه.
- پایله او نتیجه ګیري

3. **د غونډې نېټه او وخت:**

- د اجنډا بشپړیدو وروسته، د فارغانو شبکې غونډې رسمي نېټه او وخت اعلان کېږي.
- ټولو اړونده مسؤلینو او فارغانو ته بلنه ورکول کېږي، او ډاډ حاصلېږي چې ګډونوال په ټاکلي وخت کې حاضر شي.

4. **د غونډې اجرا:**

- د ټاکلي نېټې او اجنډا سره سم غونډه ترسره کېږي.
- د غونډې پایله، وړاندیزونه او نظریات لیکلي راپور کې ثبت کېږي او اړونده خواوو ته لیږل کیږي.

## ۴: د فارغانو شبکې د راپور جوړولو او لیکلو څرنګوالی

کله چې د فارغانو شبکې غونډه ترسره شي، پوهنځي مکلف دي چې د غونډې مفصل راپور ترتیب کړي. دغه راپور باید ټولې خبرې، نظریات، ستونزې او وړاندیزونه په منظم ډول ثبت کړي، تر څو د پوهنتون لپاره د راتلونکو پریکړو او ظرفیت لوړونې پروګرامونو لپاره د اساسي معلوماتو سرچینه وګرځي

1: **د فارغانو تجربې او ستونزې:**

- د تحصیل په دوران کې د  ستونزو او ننګونو یادونه
- د اداري خدماتو په اړه ستونزې
- د مسلکي او کاري بازار اړوند مشکلات

**2: وړاندیزونه او نظریات:**

- د نصاب، تدریسي میتودونو او ورکشاپونو په اړه وړاندیزونه
- د اداري پروسو د اسانه کولو وړاندیزونه
- د راتلونکو محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره عملي وړاندیزونه

3: **راتلونکي پلانونه او پروګرامونه**:

- د غونډې پر بنسټ وړاندیز شوي پروګرامونه، لکه ورکشاپونه، انټرنشپونه، ظرفیت لوړونې روزنیز پروګرامونه
- د مسئولینو او پوهنځي د اجراآتو پلان

## ۵: د فارغانو شبکې غونډې وروسته د لاسته راغلو پایلو پر اساس عملي اقدامات:

کله چې د فارغانو شبکې غونډه ترسره شي، او د غونډې راپور ترتیب او اړونده ادارو ته واستول شي، نو د راپور پر بنسټ لاندې اقدامات ترسره کېږي:

**۱. د ستونزو او مشکلاتو تحلیل**

- راپور د پوهنځي، لخوا کتل کیږي.
- هره ستونزه، ننګونه او مشکل په تفصیل سره تحلیل کېږي.
- د حل لپاره لومړني ګامونه او مسؤل اشخاص مشخصېږي.

**۲. د وړاندیزونو ارزونه**

- د فارغانو وړاندیزونه د پوهنتون د ادارې له خوا ارزول کېږي.
- عملي وړاندیزونه د راتلونکو ظرفیت لوړونې پروګرامونو په پلانونو کې شاملېږي.
- وړاندیزونه چې د محصلینو د پرمختګ او پوهنتون د خدمت کیفیت لوړوي، لومړیتوب ورکول کېږي.

**۳. د راتلونکو پروګرامونو طرحه او تطبیق**

د فارغانو تجربې او وړاندیزونه د برحال محصلینو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونو په جوړولو کې کارول کېږي.
پروګرامونه کولی شي شامل وي:

- مسلکي ورکشاپونه او روزنیز کورسونه
- انټرنشپونه او عملي تجربې
- د کاري بازار اړوند مهارتونه
- د اړیکو، ټیم کار او رهبرۍ ظرفیت لوړونه

**٦. د اقداماتو څارنه**

- د تطبیق شوي پروګرامونو اغېزمنتیا څارل کېږي.

- د ستونزو د حل او وړاندیز شویو پروګرامونو پرمختګ په منظم ډول راپور کېږي.
- د اړتیا په صورت کې، پروګرامونه او اقدامات اصلاح کېږي.

**تائید او تصویب**

فارغانو سره د اړیکې نیونې/ د فارغانو شبکې میکانیزم د محصلانو چارو معاونیت په ( ۱۹/٦/۱۴۰۴ ) نېټې مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په (٦) ګڼه پروتوکول کې ثبت او تائید دی.

محصلانو چارو شورا مشر

فارغانو سره د اړیکې نیونې/ د فارغانو شبکې میکانیزم د علمي شورا په ( ۳۱/٦/۱۴۰۴ ) نېټې مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په (٦) ګڼه پروتوکول کې ثبت او تائید دی.

د علمي شور منشي                                        د علمي شورا مشر